# ارګ پاڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

لومړۍ ګڼه










## د ارګ مهمې پېښې

# د افغانستان اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوی هبة الله اخوندزاده حفظه الله ارزښتناکه وینا

بسم الله الرحمن الرحیم
ټولو مجاهدینو او مشرانو ته توصیه کوم چې په مجاهدینو باندې رحم او شفقت کوی لکه څرنګه چې تاسو په دوی حق لری چې دوی به ستاسو تعظیم او قدر کوي همدارنګه دوی هم پر تاسو حق لري چې تاسو به پر دوی رحم او شفقت کوی.
رسول الله (ص) فرمايلي: هغه څوک چې زموږ پر ځوانانو رحم نه کوي هغه زموږ له ډلې ندی او هغه څوک چې زموږ د مشرانو عزت نه کوي هغه زموږ له ډلې څخه نه دی او هغه څوک چې په نیکۍ سره امر نه کوي او له بدی څخه منع نه کوي هغه زموږ له ډلې څخه نه دی.
مجاهدينو ته عفو پر خطا کول، پر دوی باندې رحم کول، د دوی سره نرمي کول او دوی ته د الله پاک (ج) څخه د مغفرت او ښښنه غوښتل د الله (ج) رحمت دی.
الله تبارک و تعالی فرمايلي دي: نو په سبب د رحمت او مهربانۍ چې پر تاسو باندې الله (ج) له خوا شوې ده نرم شوې ته پر دوی باندې او که وای ته بد خویه د سخت زړه خاوند نو خامخا تار په تار شوي او پاشل شوي به وای اصحاب ملګري ستا له شاوخوا څخه نو عفو وکړه ته دوی ته او ښښنه وغواړه له خدای پاک (ج) څخه لپاره د دوی او مشوره کوه د دوی سره په کار کې نو هغه پاتې برخه پ۲

> „مناسبات میان افغانستان و ترکمنستان تاریخی و حسنه بوده و ما خواهان تداوم این مناسبات استیم"
>
> از ارشادات محترم مولوی محمد حسن آخوند رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان

## په هېواد کې د بهرنۍ کرنسۍ په کارولو د بشپړ بندیز په اړه اعلامیه

په هېواد کې اقتصادي حالت او ملي ګټې ایجابوي چې ټول افغانان په هره راکړه ورکړه کې افغانۍ کرنسۍ وکاروي.
اسلامي امارت ټولو هېوادوالو، دکاندارانو، تجارانو، کسبه کارانو او عامو خلکو ته لارښونه کوي چې، له دې وروسته به هر ډول راکړه ورکړه په افغانۍ ترسره کوي او د بهرنۍ کرنسۍ له کارولو څخه په کلکه ډډه وکړي. د بهرنۍ کرنسۍ استعمالول د هېواد په اقتصاد منفي اغېز کوي او ټولو هېوادوالو ته یې زیان رسیږي. که څوک له دې حکم څخه سرغړونه وکړي له قانوني چلند سره به مخ کیږي.

## دیدار رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان با وزیر امور خارجه ترکمنستان

رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان محترم ملا محمد حسن آخوند با رشید مرادوف وزیر امور خارجه ترکمنستان و هیات همراه اش در ارگ دیدار کرد.
در این دیدار که محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء و شمار دیگری از مسئولین امارت اسلامی نیز حضور داشتند، هر دو جانب در مورد روابط افغانستان و ترکمنستان، همکاری های اقتصادی و ترانزیتی و پروژه های مشترک، بحث و تبادل نظر نمودند.
محترم ملا محمد حسن آخوند رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان ضمن خوش آمدید به هیات ترکمنستان، از همکاری آن کشور با افغانستان تشکر کرده، گفت که مناسبات میان دو کشور تاریخی و حسنه می باشد.
سپس محترم مولوي عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان صحبت کرده، گفت که ما از پروژه های مشترک میان دو کشور از جمله خط آهن، تاپی، و فایبر نوری حمایت می کنیم و آنرا به منفعت هر دو کشور می دانیم و از تلاش های حکومت ترکمنستان در بخش های سیاسی، امنیتی و اقتصادی تشکر کرد و گفت که تداوم و تطبیق پروژه های زیربنایی و انکشافی مشترک، در زمینه بهبود اقتصاد هر دو کشور مفید می باشد.
وی افزود که ما خواهان آغاز پروژه های ملی میان دو کشور به زودترین فرصت ممکن هستیم، زیرا تمام شرایط لازم از جمله امنیت مطمئن برای تطبیق ...بقیه در ص ۲

## هوايي دهليز عملا په کار پيل وکړ




له کابل هوايي ډګر څخه په څلغوزو بار یوه کارګو الوتکه د ا.ا.ا. د لوړ رتبه مسئولینو له افتتاح وروسته د چین هېواد په لور روانه شوه.
د ا.ا.ا. له حاکمیت وروسته دا لومړۍ کارګو الوتکه وه چې د چین په لور روانه شوه.

## د ریاست الوزراء مرستیال د خصوصي پوهنتونو له استادانو سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال محترم مولوی عبدالسلام حنفي د خصوصي پوهنتونو له استادانو سره ناسته ترسره کړه.
په ناسته کې محترم حنفي استادانو ته هرکلی ووایه او د خصوصي پوهنتونونو او علمي مرکزونو د فعالولو او ځوانانو ته د کارموندلو په اړه یې مفصلې خبرې وکړې، د غونډې برخوالو ته یې له خپل اړخه د لا ډېرو هڅو او ځانګړې توجه کولو ډاډ ورکړ.
دغه راز محترم حنفي استادانو ته اطمینان ورکړ چې، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی او د هېواد د پرمختګ او بیا ابادولو په برخه کې به د دوی له استعدادونو څخه کار اخیستل کیږي او نوی حکومت به ټولو افغانانو ته د خدمت زمینه مساعده کړي.
استادانو هم خوښي څرګنده کړه او خپل یو لړ وړاندیزونه یې د ریاست الوزراء مرستیال ته وړاندې کړل.

## د ملي دفاع وزارت د شکایتونو د ثبت ۱۶۹ وړیا شمېرې ته مستند شکایت راولېږئ!

## دیدار معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی با نماینده خاص آغاخان در افغانستان

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان با علی اکبر پسنانی نماینده خاص آغا خان در افغانستان دیدار کرد.

در این دیدار که در ارگ انجام شد، ابتدا علی اکبر پسنانی در مورد فعالیت های شبکه انکشافی آغا خان در افغانستان، در بخش های اجتماعی، فرهنگی و اقتصادی معلومات ارائه نمود.

وی با بیان اینکه دفاتر شبکه انکشافی آغا خان به فعالیت های خویش در عرصه های متذکره ادامه میدهد، افزود که بیشتر از ۱۴۰ آبده تاریخی را در افغانستان مرمت کرده و هدف عمده این نهاد، بلند بردن ظرفیت های بشری و توجه به تعلیم دختران در افغانستان می باشد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی گفت که شبکه انکشافی آغا خان می تواند بر علاوه فعالیت های قبلی، در بخش های مختلف در افغانستان سرمایه گذاری نماید و تاکید ورزید که شرایط و تسهیلات لازم در زمینه از جانب امارت اسلامی فراهم گردیده است. وی افزود که تعلیم برای همه یک امر ضروری است و وزارت های معارف و تحصیلات عالی در خصوص تعلیم دختران روی یک میکانیزم کار می کنند.

در اخیر این دیدار، محترم حنفی ضمن ابراز خرسندی از فعالیت های انجام شده، از رهبری شبکه آغا خان خواست تا یک شفاخانه معیاری را در افغانستان اعمار تا از این رهگذر مشکل هموطنان در عرصه مداوا حل گردد.



**کومو هېوادونو او سازمانونو چې تر اوسه له افغانستان سره مرسته کړې موږ له هغوی مننه کوو او موږ مرستندویه هېوادونو او سازمانونو ته ډاډ ورکوو چې دا مرستې به په شفاف ډول تر اړمنو ورسیږي.**

محترم مولوي امیر خان متقي د ا.ا.ا.
د بهرنیو چارو وزارت سرپرست

پاتې برخه پ۱...

## د افغانستان اسلامي امارت د زعیم...

وخت کې چې قصد وکړي تا دا کار کولو او توکل په الله (ج) باندې وکړه بیشکه چې خدا پاک (ج) توکل کوونکی خوښوي.

په ادب ورکولو د نرمۍ څخه کار واخلئ غلظت او سختي مه ورسره کوئ د حوایجو پر مخ یې دروازې مه وربندوی لکه د فوځ اصلاح د دوی د معیشت قوي کولو او د دوی د اړتیا په پوره کولو او د دوی د سختیو او کړاونو په تناسب دوی ته په امتیاز ورکولو کې ده. وخت په وخت له دوی سره وینی، ملاقاتونه ورسره کوی او د اخلاقو اصلاح او د هغوی ښو ادابو ته پاملرنه وکړی ترڅو هغوی وکولای شي چې په قوت سره د خدمت حق ادا کړي چې ورته اړتیا ده.

د هر مشر لپاره د هغه ملګري د بدن د اعضاء په څېر دي نو که د بدن اعضاء په ښه ډول کې نه وي یا عارض ورته پیښ شي نو ټول یا بعضي اعضاء د خپل اصلي کار او وظیفې څخه معطل کیږي. نو په دې سره په ټول بدن کې اضطراب واقع کیږي او خپل د مشر کارونه ټول په اضطراب سره کوي نو په کار ده چې هر مشر خپل ملګری ښه معاینه کړي لکه څنګه چې د باغ مالک د خپل باغ معاینه کوي او هغه واښه له منځه وړي چې ګټه نه لري او د نورو نباتاتو په زیان هم وي نو د داسې وښو لپاره استخراج او اېستل خورا مناسب دي.

نو هر مشر لپاره په کار ده نا مطلوبه کسان چې د اصلاح امید یې نه کیږي د خپل صف څخه وباسي کنه نو د هغوی د هر ظلم او ناوړو کارونو مسئولیت به په دنیا او اخرت کې د ده له غاړې وي او بیا به یې د غفلت عذر هم نه منل کیږي.

په اخر کې ټولو امنیتي مسئولینو ته هدایت دا دی چې، د ولس د امنیت په ټینګښت کې نه ستړې کېدونکي وظایف ترسره کړي او ټولو مشرانو ته مې هدایت دا دی چې، د امنیتي مسئولینو سره پوره همکاري وکړي، د امنیتي اصولو په رعایتولو خپل ځانونه نور هم مکلف کړي، بعضي وخت داسې خبرونه راځي چې د امنیتي مسئولینو سره بعضې مشران سخته لهجه استعمالوي، موټر نه ورته دروي یا سم ځواب نه ورته وایي د داسې کړنو څخه دې ټول پرهیز وکړي.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

**د الله تعالی په نصرت موږ افغانستان فتح کړ او اوس له لويې ازموينې سره مخ یو، موږ باید هڅه وکړو ترڅو ملت ته د ښه او هوسا ژوند زمینه برابره شي.**

محترم ملا برادر اخوند د ا.ا.ا. د
ریاست الوزراء مرستیال

**د اغاخان شبکې د اجرااتو څخه په مننې له دوی غواړو ترڅو په هېواد کې یو معیاري روغتون د هېوادوالو د هوساینې لپاره جوړ کړي.**

محترم مولوي عبدالسلام حنفي د
ا.ا.ا. د ریاست الوزراء مرستیال

*شرایط مناسب نسبت به هر زمان دیگر برای تطبیق پروژه ها فراهم شده و در زمینه تامین امنیت پروژه های اقتصادی و زیربنایی از هیچ سعی و تلاش دریغ نمی ورزیم.*

محترم مولوی محمد یعقوب مجاهد
سرپرست وزارت دفاع ملی

د ړغ رسولو تر ټولو ښه او مؤثره وسیله رسنۍ دي موږ به یې د ژمنو او ریښتونو خبریالانو په ملګرتیا د مسئول کس په توګه په ټول توان سره کوښښ کوو چې په مټ یې حقایق تر وطن والو او نړۍ والو پورې په ښه ډول ورسوو او د خپل مسئولیت حق ادا کړو.

محترم قاري محمد یوسف احمدي
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز سرپرست

بقیه از ص ۱...

## دیدار رئیس الوزرا...

آنها فراهم شده است.


در مقابل وزیر امور خارجه ترکمنستان گفت که مناسبات ما همیشه به نفع هر دو کشور بوده است و حضور نمایندگان امارت اسلامی در نشست های بین المللی یک ضرورت مبرم است.

وزیر امور خارجه ترکمنستان از تداوم همکاری کشور خود در زمینه کمک های بشردوستانه به افغانستان و تطبیق پروژه های مشترک میان دو کشور اطمینان داد و آنرا در راستای رفاه و آسایش مردمان افغانستان و ترکمنستان و گسترش همکاری های منطقوی، مفید خواند.

در این دیدار محترم مولوی محمد یعقوب مجاهد سرپرست وزارت دفاع ملی نیز صحبت کرده، گفت که شرایط مناسب نسبت به هر زمان دیگر برای تطبیق پروژه ها در کشور فراهم گردیده و مجاهدین ا.ا.ا. در راستای تامین امنیت پروژه های اقتصادی و زیربنایی مشترک هر دو کشور از هیچ سعی و تلاش دریغ نخواهد ورزید.

*با بهره برداری از پروژه تاپی، سالانه افغانستان علاوه بر گرفتن گاز کافی، بیش از ۴۰۰ میلیون دالر حق ترانزیت گاز بدست خواهد آورد.*

*با آغاز روند تطبیق پروژه های زیربنایی و اقتصادی، فرصت های شغلی برای هموطنان در سطح کشور فراهم گردیده و این خود نقش سازنده در حیات اجتماعی و اقتصادی آنان خواهد داشت.*



**لازمه تمام پیشرفت ها امنیت است اکنون که امنیت سرتاسری در کشور تامین است به زودی شاهد پیشرفت های خوبی خواهیم بود.**

محترم ذبیح الله مجاهد معین
وزارت اطلاعات و فرهنگ و
سخنگوی امارت اسلامی افغانستان

## به ۶۰۴ فامیل نیازمند در ولایات فاریاب، میدان وردک و فراه مواد خوراکی و زمستانی توزیع گردید







این مساعدت شامل یک بوری آرد، یک بوری برنج، یک قطی روغن، یک خریطه مکرونی، ۱۰ کیلوگرام لوبیا، دو عدد لحاف زمستانی و برخی اسباب آشپزخانه بوده که به هر فامیل نیازمند در ولایات متذکره توزیع گردید.

## په پکتیکا او غزني ولایتونو کې دوه پلونه گټې اخیستنې ته وسپارل شول او په زابل ولایت کې د یوه پله د رغونې چارې پیل شوې





د پکتیکا ولایت په مرکز ښرنه او د غزني ولایت په مقر ولسوالي کې دوه پلونه گټې اخیستنې ته وسپارل شول او همدارنگه د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د سرخ سنگ په سیمه کې د یوه پله د رغونې چارې پیل شوې.

## د ننگرهار ولایت کانال ریاست په ورکشاپ کې کرنیز وسایط ترمیم شول



د یاد ورکشاپ په فعالېدو سره به ټول هغه وسایط او ماشین الات چې، له کاره غورځېدلي بېرته ترمیم او په کرنیزو چارو کې به ترې کار واخیستل شي.

## په لوگر کې ۱۰۰ ښوونځیو ته د درسي توکو د مرستې پروگرام پیل شو



په لوگر ولایت کې د نجونو او هلکانو د ۱۰۰ ښوونځیو له ۵۰ زرو زده کوونکو او ۸۹ ښوونکو سره د درسي توکو د مرستې بهیر د یونیسف موسسې له خوا پیل شو.

## د صحي تجهیزاتو یوه محموله کابل ته ورسېده




دا محموله د روغتیا نړیوال سازمان له خوا د قطر هېواد په مرسته کابل ته ورسېده چې په کې د ۵۰۰۰ ماشومانو د درملنې لپاره صحي تجهیزات شامل دي.

## ترکیه صد متریک تُن تخم اصلاح شده گندم به افغانستان کمک کرد




مقدار صد متریک تُن تخم اصلاح شده گندم از جانب بنیاد کمک های بشر دوستانه کشور ترکیه به وزارت زراعت، آبیاری و مالداری تحویل داده شد.

## د پکتیا ولایت د گردیز ښار ماستر پلان د تطبیق چارې پیل شوې




د گردیز ښار ماستر پلان چې ۴۰ کاله مخکې ترتیب شوی وو د ۱.۱.۱. له حاکمیت وروسته تطبیق یې پیل شو چې په دې سره به ښار په منظمه توگه وده وکړي.

## برای ۶۰۰ دهقان در ولایت کاپیسا گندم اصلاح شده بذری توزیع گردید



به گفته مسوولان ولایت کاپیسا، برای هر دهقان ۵۰ کیلوگرام گندم اصلاح شده بذری، ۵۰ کیلوگرام کود سیاه و ۵۰ کیلوگرام کود سفید توزیع گردید.

## ۳۰ پایه ماشین میوه خشکن به زنان زراعت پیشه در ولایت سمنگان توزیع گردید



این مساعدت به هزینه بیش از ۹۲۶ هزار افغانی حمایت مالی موسسه BMZ به زنان زراعت پیشه در شهر ایبک و ولسوالی حضرت سلطان ولایت سمنگان صورت گرفت.

## لښکرگاه کې یو ښوونیز مرکز پرانیستل شو



د هلمند ولایت مرکز لښکرگاه ښار کې د افغاني سرې میاشتې له خوا یو ښوونیز مرکز پرانیستل شو. دا مرکز ۶۵ لکه افغانیو په لگښت جوړ شوی دی.

## ساختمان یک مکتب دخترانه در ولایت جوزجان به بهره برداری سپرده شد



ساختمان یک مکتب دخترانه در ولسوالی آقچه ولایت جوزجان که به ارزش ۶۵ هزار دالر امریکایی ساخته شده است افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

## په لغمان ولایت کې ۲۰۰ جریبه دولتي ځمکه له غصب څخه خلاصه شوه



د لغمان د غصب د مخنیوي کمیسون د بابا صاحب په دښته کې شاوخوا ۲۰۰ جریبه دولتي ځمکه د غاصبینو له منگولو څخه خلاصه کړه.

## د کندهار او د پروان ولایتونو څخه سلگونه مجاهدین تر نظامي زده کړو وروسته د فراغت سندونه ترلاسه کړل





د کندهار ولایت د ۲۰۶ قول اردو او همدارنگه د پروان ولایت څخه سلگونه مجاهدین تر دوه نیمو میاشتو مسلکي زده کړو وروسته د فراغت سندونه ترلاسه کړل. دا مجاهدین به له دې وروسته د هېواد د امنیت په ټینگښت کې رغنده رول ولوبوي.

# د افغانستان اسلامي امارت له حاکمیت وروسته

قطر هېواد تر اوسه ٦٠ مېټریک ټنه تجهیزات مرسته کړې چې، د یو نیم میلیون هېوادوالو د بېړنیو روغتیایي اړتیاوو د ځوابولو لپاره کفایت کوي.




په کابل او یو شمېر ولایتونو کې اړمنو کسانو سره د خوراکي او ژمني توکو مرستې پیل شوې.




با حاکمیت ا.ا.ا. موانع سمنتی در شهر کابل برداشته شده و تسهیلات لازم ترانسپورتی به همشهریان کابل فراهم گردیده است.



کار پروژه های بزرگ و اقتصادی از قبیل تاپی، تاپ و خط آهن در کشور از سر گرفته می شود.



# د اونۍ انځور

د ا.ا.ا. له حاکمیت وروسته، هوایي دهلیز عملا په کار پیل وکړ او په ځلغوزو بار یوه کارگو الوتکه له کابل هوایي ډگر څخه د چین هېواد په لور روانه شوه.



